د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

اداري معاونیت

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

شمېره: ۹۹۹ / ۵۰٦

نېټه ۱٤٤۷/۳/۳۰ هـ . ق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت محترم لوړ مقام ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: په اداري چارو کې د تاریخ رسونې په اړه د میاشتې د لیدو د مرکزي کمېټې خبرتیا

قدرمنو! الله تعالی مو محفوظ او منصور ولره وبعد:

تاسې ته معلومه ده چې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د ( ۱٤٤۳/۹/۲ نیټې او د ۱٦۹۱ ګڼې) حکم په اساس د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د میاشتې د لیدو کمېټه جوړه شوه، یاده کمېټه هره میاشت د خپل کاري طرزالعمل په اساس د هیواد په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د میاشتې د لیدو لپاره مؤظف کسان ټاکلو ځایونو کې ځای پر ځای کوي، ترڅو د میاشتې د لیدو یا نه لیدو په اړه مرکزي کمېټې ته معلومات ورکړي، وروسته د میاشتې د لیدو مرکزي کمېټه په دې اړه رسمي اعلان کوي.

په دې اساس د دغه مکتوب په وسیله چې د ۱٤٤۷ هجري قمري کال د کلیزې د ربیع الآخر میاشت او اعلان مو هم ورسره ضمیمه کړي، ترڅو تاسو ته خبر درکړو چې ټولې امارتي اداري مکلفې دي په خپلو مکتوبونو، مراسلاتو اوټولو اداري چاروکې د میاشتې د لیدو د مرکزي کمېټې د اعلان مطابق تاریخ ورسوي.

په درنښت

شیخ عبدالحکیم«حقاني»
د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات

۱۳۴۷۴۴ ۹۶۲

ثبت وارده ۱٤۸۲ ۱٤٤۷/٤/٥

Address: public health square 9th District, kabul –Afghanistan
Phone: ۰۲۰-۲۳۰۲۲٦۳ - ۰۲۰-۲۳۰۰۳٦۱
E-mail: Publications.sc1443@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل افغانستان
تیلفون : ۰۲۰-۲۳۰۰۳٦۱ - ۰۲۰-۲۳۰۲۲٦۳
بریښنا لیک: Publications.sc1443@gmail.com
ویب سایت : د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه